د افغانستان کلتوري میراث ساتنه -

د (ARCH) د نړیوالې ادارې د فرهنګي میراثونو د بیا رغاونې د اتحادیې غوښتنه

**د قطر هیواد د دوحه په ښار کې د همغږۍ او اسانونکو هیوادونو او د افغانستان د سولې خبرو اترو ټیمونو ته:**

موږ د دې لپاره دلته د افغانانو سره یو ځای سوې یو چې د افغانستان د سولې مذاکراتی ټیمونو دواړه خواوې دې ته وهڅوو چې پر خبرو عمل او د افغانستان د کلتوری شتمنیو ساتلو ته مسئول او ژمن اووسي. موږ ستاسو څخه غواړو چي موږ ته به اطمینان راکوئ چي تاسو د هغو شتمنیو ساتنه کوی چې د هیواد او نړۍ په ګټه دي.

د افغانستان بډایه کلتور او تاریخ، د خلکو مقاومت او دهغوی هنری آثار، د ادبیاتو او معماری لوی کار چي په تیرو څو پیړیو کې منځته راوستل سوی، زموږ د ستاینې وړ دی او ملاتړ یې کوو. په پخوانیو وختونو کې افغانستان د کانونو په ټیکنالوژۍ کې مخکښ هیواد وو. دا د بودایی امپراتور ځواکمن کور وو. لوی سکندر یو شمیر ښارونه جوړ کړې چې نن ورځ لا هم د هغوی بعضی معماري په سترګو ګیرئ. د هغوی سوداګرو به د وریښمینو پر سړک تګ او راتګ کاوه. ښکلي جوماتونه، مناري او پخوانی کلاګاني چې د اسلامی امپراتورۍ په تیرو وختونو کې یې د افغانستان ځواک پیاوړی کړی وو، لا هم دې خاورې ته ښکلا ورکړې او د قدر وړ دي. دا د ځانګړي عناصرو یو پیچلي هویت دی، چې دا خپلو اتباعو او نړیوالو ته تصدیقوی چې دا هیواد له تیرو څلویښتو کلونو ویجاړیو او بربادیو څخه لا ډیر استازیتوب کوي. د نړۍ په ګوټ ګوټ کي خلک د دې وطن تاریخ ،هنر او اشعار لولي، هغوي ته زړه راښکونکي او په زړه پورې ښکاري او هغوي دې ته اړ باسي چي لا نور هم پرې زده کړي وکړي. دا کلتور، تاریخ او میراث د افغانستان راتلونکې پرمختګ او هوساینې لپاره نه ختمیدونکې خزانه ده. دا په یاد ولرئ چې دا د اروپا، مرکزي آسیا، منځني ختیځ او لرې ختیځ خورا قیمتي او ارزښت لرونکی توکي دي.

خو له بده مرغه، د خپل اوسني تاریخ د نه تکراریدونکي زیانونو د مخنیوۍ او د هیواد د بې بها خزانو له لاسه ورکولو د پام وړ مثالونه شتون لري. لاملونه یې لکه د بامیانو په څیر قصدي تباهی ، د لوټماری زغمول، د کانو د کیندنې قراردادونه چې د قیمتي لرغون پیژندنې ذخیرو په پام کې نه نیولو سره سرته رسیدلي، او هم د پامپۍ سره د ځمکې لاندې ښارونه. دا د یو هیواد د زده کړی د توان، کدري او اقتصادي پوټانسیال لپاره یو ستر زیان دي چې د امکان تر حده ډیرو منابعو ته اړتیا لري.

موږ باید یادونه وکړو چې په ټوله نړۍ کې اسلامي هیوادونه په کلتوري میراث ، هنر، معمارۍ، لرغون پیژندنې او د نړي د هنر په تاریخ ویاړي. لومړۍ بیلګه یې قطر ، اردن ، مصر ، متحده امارات او داسی نور، چې د خپل تاریخي ځایونو د ساتنې او د میوزیم د طراحی کولو د هنرونو مشران دي. موږ له دې هیوادونو څخه غواړو چې په مناسب ډول د افغانستان ملاتړ وکړي چې دوی د خپل کلتوري میراث، تاریخی آثار او تاریخي ځایونه په ښه توګه اداره او ساتنه وکړي.

لرغوني آثار یوه ارزښتناکه سرچینه ده چې د یوه هیواد د دوامداره اقتصادي پرمختګ یوه پانګه ده. همدارنګه دوی د شخړو وروسته د پخلاینې او بیا جوړونې د ګډ ملي هویت په ورکولو کې مثبت رول او همکاري کوي. افغانستان د کلتوري میراثونو کور دی چې کولی شي په نړۍ کې د

ویاړ ځای ځان ته ځانګړې کړي، او د ټول بشریت خزانه شتمنه کړي. سربیره پردې، د نړیوالې ټولنې او د هغوي د خلکو ملاتړ به د نوي افغان حکومت سره سمون ولري چې د منل شوي نړیوالو نورمونو سره سم، او د فرهنګي میراثونو د ساتنې په ګډون.

**موږ له ټولو ښکېلو استازو او د سولې خبرو له تنظیم کوونکو څخه غواړو چې د افغانستان څو-فرهنګي او څو- قومي میراث ته درناوی تایید او د سولې په وروستي تړون کې د هغوي د ساتنې لپاره خپلې ژمنې شاملې کړي.**